مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د گل جان صابر ژباړه ۲۰۲۲/۰۶/۲۴

ځیرکه نجلۍ

د کوچینیانو لپاره کیسه

یو وخت کې یو سپین ږیری خان و. هغه یوازې یو زوی لرلو او هغه هم بېړا(کم عقل) و. خان ډېر غمجن او خواشینی و. هغه به له ځان سره فکر کاوه چې:« که زه مړ شم نو زما زوی به څه کوي، د خاني کارونه خو پرمخ نشي وړلی. که چېرې هغه ته یوه هوښیاره ښځه پیدا کړم! د هوښیارې ښځې په لرلو سره به زما زوی وکړی شي چې د خاني کارونه پرمخ یوسي...»
خان یوه ورځ خپل زوی ته وویل:
که غواړې چې زما ځای ناستی شې نو ولاړ شه په ټول ملک کې وګزره، لس کلنه وزګوړی، شل کلن لېوه، دېرش کلنه ګیدړه، څلوېښت کلن پړانګ، پنځوس کلن سپی او شپېته کلن اوښ پیدا کړه او ټول ما ته را وله. تر هغه چې دا د نه دې پیدا کړې ما ته مه راځه!
د خان بېړا زوی د دې څارویو او ځناورو په لټه پسې روان شو. هر چېرې چې ځي چیغې وهي:
- څوک لس کلنه وزګوړی لرې زه یې رانیسم! څوک شل کلن لېوه لرې زه یې رانیسم! دېرش کلنه ګیدړه رانیسم! څلوېښت کلن پړانګ رانیسم! پنځوس کلن سپی رانیسم! شپېته کلن اوښ رانیسم!
خلک د خان په زوی پورې خاندې او له ځانونو سره وایي:« دا بېړا څه وایي؟ لس کلنه وزګوړی ، دا خو زړه وزه وي! څوک به شل کلن لېوه ولري؟ سړی به څه پوه شي چې لېوه څوکلن دی؟ او دېرش کلنه ګیدړه، څلوېښت کلن پړانګ، پنځوس کلن سپی، شپېته کلن اوښ! دا څاروي او ځناور دومره ډېر ژوند کوي؟ که دومره اوږد ژوند هم وکړي نو څوک به پوه شي چې دوی څوکلن دي؟»
د خان زوی کوڅه په کوڅه ګرزي او په لوړ غږ چیغې وهي:
- لس کلنه وزګوړی رانیسم! شل کلن لېوه رانیسم! دېرش کلنه ګیدړه رانیسم!..
د یوه کور مخې ته نجلۍ ناسته وه. هغې له هلک څخه پوښتنه وکړه:
- ځوانه، څه چیغې وهي؟ څه د په کار دي؟
د خان زوی نجلۍ ته د خپل پلار د غوښتنې کیسه وکړه.
نجلۍ د خان زوی ته وویل:
- پلار ستا ځیرکې او هوښیارتیا ازمویي. لس کلنه وزګوړی - لس کلن کوچینی دی. هغه لوېږي او د وزګوړی په څېر ټوپونه وهي. شل کلن لېوه - شل کلن ځوان دی. هغه له هیلو ډک او د لېوه په څېر وړی وي. دېرش کلنه ګیدړه - دېرش کلن سړی دی. د هغه عقل پوره کېږي او د ګیدړې په څېر ځیرک وي. څلوېښت کلن پړانګ - څلوېښت کلن سړی دی. هغه د پوره ځواک څښتن او پړانګ ته ورته وي. پنځوس کلن سپی - پنځوس کلن سړی دی. هغه تر دې عمر پورې شته ټول کړي وي، اوس شپه او ورځ خپل شته ساتي. شپېته کلن اوښ - شپېته کلن سړی دی. د هغه سترګې نه وینې او داسې یې باید بوزې لکه اوښ.
د خان زوی کور ته راغی. خان له خپل زوی څخه پوښتنه وکړه:
- څرنګه؟ تا هغه څه پیدا کړل چې ما یې د پیدا کولو در ته ویلي و؟
- هو، پلاره، پیدا مې کړل. هلک پلار ته ټول هغه څه وویل چې نجلۍ ور ته ویلي وو.
- دا تا پخپله پیدا کړل او که کوم چا مرسته در سره وکړه؟
- نه، پلاره، دا ما نه دې پیدا کړي، یوې نجلۍ را ته وویل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سپین ږیري خان وویل:
- دا هوښیاره نجلی ده. هغه د ستا ښځه شي!
هوښیاره نجلی د خان نګور شوه. کله چې خان مړ او د نجلی بېړا مېړه خان شو هغې د کارونو په پرمخ بېولو کې له مېړه سره مرسته کوله.

د اویغور د خلکو کیسه
د ګل جان صابر ژباړه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ